# The lingual impacts of Arabic language on the poetic works of Rehman Baba

# د رحمان بابا په کلام د عربۍ ژبې لساني اثرات

**Dr. M. Farooq Anjum**⋆
**Dr. Noor Muhammad Danish Betani**⋆⋆

**ABSTRACT:**

Arabic language belongs to Sami Family of languages, According to the linguists it is an ancient language. It is spoken as a native language in more than 24 Arabic countries. It is also a well-known language in other Islamic countries because it is a religious language of Islam. Quran, Hadith and basic teaching of Islam are available in this language. It gained great importance after the Islam.

Arabic language has had a major linguistic and literary influence on Pashto language. Like other poets Rehman has also used countless Arabic words in his poetry .The aim of this article is to highlight the lingual impacts of Arabic language on the poetic works of Rehman Baba.

**Keywords:** Linguistics and literary influence of Arabic on Pashto, Lingual Impact, Arabic language, Rehman Baba, Pashto Poetry.

سامي ، آريائي او حامي د نړۍ د ټولو نه قديمې او لوئې ژبې دي - دغه شان عربي يو سامي ژبه ده يعني د حضرت نوح عليه السلام د زوي سام د نسل سره اړيکو لرونکو قامونو ژبه ده - هم د دې سامي قامونو ړومبنې وطن وادئ فرات يا دجله او فرات تر مېنځه سيمه وه خو د زمانې په تېرېدو سره چې هر کله د دوي د آبادۍ شمير زيات شو نو په خواو شا سيمو خوارۀ شو- عربي ژبه د هغه انقلاباتو او تغيراتو نه په ډډه او محفوظه پاتې شوې ده د کومو سره چې نورې ژبې مخامخ شوې دي - هم له دې کبله په سامي ژبو کښې عربي ژبه د اصل او بنيادي ژبې سره ډير نزديکت لري- د نړۍ په قديمو ژبو کښې عربۍ ډېره د اهميت جوګه ده- پروفيسر وهاب اشرف " تاريخ ادبيات عالم " کښې د عربۍ ژبې د اهميت په بابله ليکي:

---

⋆ Assistant Professor, Department of Pashto, National University Modern languages Islamabad
⋆⋆ Assistant Professor, Pashto Academy UoP

*"دنیا کی قدیم اور اہم زبانوں میں عربی زبان ایک ممتاز مقام کی حامل ہے۔ بنیادی طور پر اس کا تعلق سامی خاندان سے ہے لیکن اپنی انفرادیت اور ہمہ گیری کے سبب آج کے سائنسی اور ترقی یافتہ دور میں تمام علوم و فنون کو اپنے اندر سمونے کی بے پناہ قوت رکھتی ہے کیوں کہ اس میں نزاکت بیان بھی ہے اور شوکت الفاظ بھی۔ اعجاز و ایجاز بھی ہے اور مترادفات اور اضداد کی بہتات بھی۔ علاوہ بریں قرآن مجید جیسی کتاب کا عربی زبان میں نزول اور احادیث نبوی کا موجود ہونا بھی اس کی اہمیت وافادیت کے تحفظ کا ضامن ہے۔ گویا اس زبان کی اپنی خصوصیات اور ادبی شاہکار کے علاوہ مذہب اسلام سے اس کا رشتہ بھی اسے آفاقیت بخشتا ہے مگر ایسی منفرد اور ہمہ گیر زبان کب اور کیسے وجود پذیر ہوئی؟ اس کا تعین قطعیت کے ساتھ نہیں کیا جا سکتا کیوں کہ تاریخ کے اوراق اس سلسلے میں کوئی واضح تصور پیش کرنے سے قاصر ہیں"۔ (۱)*

ترجمه: ‹د نړۍ په قدیم او اهم ژبو کښې عربي د یو ممتاز مقام وړ ژبه ده- په بنیادي توګه د دې تعلق د سامي کورنۍ سره دے خو د خپل انفرادیت او همه ګیریت په سبب د نن په سائنسي او پرمختللې دور کښې ټول علوم او فنون خپل دننه د ځایٔ کولو بې پناه قوت لري ځکه چې په دې کښې د نزاکت بیان هم دې او شوکت الفاظ هم، اعجاز او ایجاز هم دے او د مترادفات او اضداد زیاتوالې هم، دې سره سره د قرآن مجید غوندې کتاب په عربۍ ژبه کښې نزول او احادیث نبويؐ شتوالې هم د دې د اهمیت او افادیت د تحفظ ضامن دے، ګویا د دې ژبې خپل خصوصیات او ادبي شاهکار نه علاوه د اسلام مذهب سره رشته هم دې ته افاقیت وربخښي، مګر داسې ځانګړې او همه ګیره ژبه چرته او څنګه وجود کښې راغله؟ د دې تعین قطعیت سره نشي کېدے ځکه چې د تاریخ اوراق په دې لړ کښې څه واضحه تصور وړاندې کولو نه قاصر دے›

د عربي ژبې آغاز څنګه وشو او د کومو کومو مرحلو نه دا راتیره شوه او څنګه پر مختګ ئې وکړو- دا هر څه لا په تیارهٔ کښې دي او د دې په حقله مونږ څه حتمي رائے قائمولے نه شو ځکه چې د دې ژبې تاریخ مونږ له د هغه وخت نه په ګوتو راځي کله چې د دې ژبې د عروج زمانه وه- عن تردې چې په جزیره عرب کښې چې کومې تاریخي کتبې تر لاسه شوي دي هغه هم په دې اړه زمونږ څه واضحهٔ لاس امداد نه کوي- خو د دې نه مونږ د هغه احوالو په عقلي او نقلي دلیلونو اندازه لګولے شو د کومو په وجه چې د دے ژبې په مختلفو لهجو کښې یو والے او د کلماتو بنائسته والے رامېنځ ته شو

په ۶۱۰ء کښې د اسلام د رڼا د خوریدو نه مخکښې نه صرف دا ژبه د عربو په سیمه کښې موجوده وه بلکې د خپلې ارتقا د منزلونو تیره شوې او د کمال درجې ته رسیدلې وه او د اسلام نه مخکښې چې په دې ژبه کښې مونږ ته د شاعرۍ او خطابت کومې نادرې نمونې په لاس راځي هغه د فن او هنر یو اوچت معیار ګڼلې شي- مونږ له داثبوت په ګوتو نه راځي چې د جاهلیت د دور شاعري د کومو پړاوؤنو راتیره شوه او د کمال په نقطه ودریده خو دومره معلومه ده چې د جاهلیت د دور کومې نمونې چې زمونږ په واک اخیتار کښې دي هغه خوا و شا د اسلام د رڼا خوریدو نه یو یو نیم سل کاله مخکښې لیکلې شوي دي- په دې دلیل د عربۍ ژبې عمر کم وزیات پنځلس سوه کاله جوړیږي خو بیا هم د دې ژبې لغت، صرف و نحو ، محاوره او روزمره هم هغسي ده کومه چې پنځلس سوه کاله مخکښې وه او د عربۍ ژبې د دې ځانګړې خصوصیت له کبله نورې ژبې ئې مقابله نشي کولې-د اسلام د رڼا د خوریدو او پرله پسې د فتوحاتو نه پس عربي ژبه تر لرې لرې خوره شوه او رواج ئې وموندو په دې بابله محمد کاظم "عربي ادب کي تاریخ" کتاب کښې لیکي:

''عربی زبان ایک زمانے تک جزیرہ نمائے عرب تک محدود رہی جب اس سرزمین پر اسلام کا ظہور ہوا اور محمد ﷺ پر قرآن نازل ہونے لگا تو وہ اسی عربی زبان میں نازل ہوا جو اس خطے میں بولی اور سمجھی جاتی تھی۔ اسلام کچھ عرصہ تو جزیرہ نمائے عرب کی حدود میں رہا لیکن پھر اپنی فتوحات کے نتیجے میں دنیا میں پھیلتا چلا گیا اور جہاں جہاں بھی عرب مسلمان گئے عربی زبان بھی ان کے ساتھ گئی،اور جن ملکوں پر عربوں کا تسلط قائم ہوا وہ رفتہ رفتہ ان ملکوں میں رواج پا گئی اس طرح وقت کے ساتھ ساتھ عربی زبان دنیا کے بہت سے ممالک میں بولی اور سمجھی جانے لگی''- (۲)

ترجمه: (عربي ژبه په یوه زمانه کښې تر جزیره نمائے عرب محدود وه کله چې په دې خاوره د اسلام ظهور وشو او په محمد ﷺ قرآن نازلیدل پیل شول نو هغه هم په دې عربۍ ژبه نازل شو کومه چې په دې منطقه کښې وئیلې او پوهېدلې کېده-اسلام خو تر څه مودې په جزیره نمائے عرب کښې ؤ خو بیا د خپلو فتوحاتو په نتیجه کښې په نړۍ کښې خپرېدو او کوم کوم خوا چې عرب مسلمانان لاړل عربي ژبه هم دوي سره لاړه او په کومو هېوادونو کښې چې د عربو تسلط جوړ شو نو په مزه مزه په هغه هېوادونو کښې ئي رواج وموندو دغسې وخت سره سره عربي ژبه په یو شمېر هېواونو کښې

وئيلي کېده او په هغې خلق پوهېدل۔

که په نړۍ والو ژبو نظر واچولې شي نو دا خبره مخې تک راځي چې ډېرو ژبو د بلې ژبې نه اثر اخستے دے۔ دالفاظو ورکړه راکړه پکښې شوې ده۔ او کله چې يوه ژبه د نورو ژبو ټکي په خپل لمن کښې ځائې کړي نو په هغې کښې فراخي راځي - د ادب جولۍ ئې لا ډکېږي او دغه شان ژبه پرمختګ کوي۔ هم له دې کبله زمونږه ليکوال د ادب د وَدې په سبب د نورو ژبو د ټکو نه کار اخلي ولې چې دوي خيال او فکر بنيادي څيز ګڼي او الفاظ د هغې د بيان ذريعه۔ په دې اساس د خارجي ژبو لغات په کلام کښې ځايول عيب نه شي ګرځيدلے۔ پښتو ژبه هم لکه د نورو ترقي يافته ژبو د خارجي ژبو نه متاثره شوې ده ځکه خو ښاغلے پروفيسر داور خان داود دې حرکت ته عيب ويل تنګ نظري ګڼي ليکي چې:

"د ادب طالبعلمان او عالمان خبر دي چې ډېرو ترقي يافته ؤ ژبو د نورو نه الفاظ اخستي دي۔ نو د پښتو د پاره په داسې کولو عيب نشته او که چرې مونږ دې ته عيب وايو نو دا به د تنګ نظرۍ او تعصب دليل وي "۔(۳)

ډاکټر محمد عطاء الله خان په نور ژبو د عربۍ د اثر په حقله څه دا رنګه فکر لري:

''یہ زبان جہاں جہاں گئی وہاں کی زبانوں کو متاثر کیا۔ کہیں وہ خود وہاں کی زبان بن گئی، کہیں وہاں کی ساخت کو متاثر کیا اور کہیں ان کے لغات میں اضافہ کیا''۔(۴)

ترجمه: ۔دا ژبه چې چې کوم کوم ځائ ته ورسېده ځائي ژبې ئې متاثره کړې، چرته دا خپله د هغه ځائ ژبه جوړه شوه او چرته ئې د هغه ځاے د ژبې ساخت متاثره کړو او چرته ئې لغات زيات کړل۔

عربۍ د پښتو ژبې په ساخت اور هيئت کښې څه بدلون نه دے راوستے او د دې اثر صرف د لغاتو تر حده دے۔ دغه شان ګڼ د عربۍ لغات پښتو خپل کړي دي۔ ډاکټر خالد خان په خپله مقاله " اردو اور پشتو، لساني و ادبي اشتراک" کښې ډېر داسي د عربۍ لفظونه په ګوته کړې دي چي په پښتو کښي دا په امروزه ژوند کښې عام وئيلے او پکار راوستے شو۔ هغه دلته نقل کوؤ:

" آفت، آخر، آخرت ، اصيل، امير ، امداد، اقرار، اعتبار، بدن، بالغ، تکليف، تعليم، تقسيم، تجارت، ثواب، جائز، جمع، جماعت، جواب،

جهاز، جلوس، خيال، خاص، خبر، خدمت، ختم، خالي، خير، دنيا، دوران، داخل، دكان، دعوي، دولت، ذات، رباب، رخصت، رواج، روح، رعيت، رئيس، سبق ، سفر، سوال، شامل، شريف، شراب، شاعر، شوق، شے، شربت، شر، شكل، صاحب، صفا، صورت، صلاح، صلح، ضرورت، طاقت، ظلم، عمل، عقل، عذاب، غير،غريب، غم، غلط، غور، فساد، فرق، فكر، فوج، قبول، قيد ، قرض، قيمت، قدم، قميص، ملك، مطلب، محتاج، مالك، مشهور، موسم، نقصان، نسل، وطن، وكيل، يقين"-(۵)

دا خو يو مثالونه دي چې عام اولس ئې په خبرو اترو کښې په داسې انداز استعمالوي لکه چې دا هم د دې ژبې خپل اصلي ټکي وي- که په صحيح توګه علمي او ادبي ليکونو او وينا ته نظر وشي نو په زرګونو داسې د عربۍ ټکي به په لاس راشي چې پښتو خپل کړي دي- عربۍ د يو مقدسې ژبې په توګه د اسلام د خوريدو نه پس د نورو ژبو په شان پښتو ژبه هم د خپل اثر لاندې راوسته او پښتو ژبې د عربۍ ډير ټکي په خپل لمن کښې داسې ځائې کړل چې اوس پردي نه بلکه د پښتو ژبي خپل ښکاري- پروفيسر افضل رضا په پښتو د عربۍ ژبې د اثر په بابله ليکي:

"اصل کښې خبره دا ده چې عربي زمونږ مقدسه مذهبي ژبه ده او لکه د نورو ژبو ئې زمونږ په ژبه دومره اثر کړے دے چې اوس ترې نه لمن خلاصول ګران دي- پښتو ته ئې دومره سامي ټکي وسپارل چې دا هم ورسره سامي بللے شي ګني پخوانۍ پښتو کښې خو د سامي ژبې ټکي اوړو کښې مالګه هم نه دي- بله دا چې لکه څنګه مسټر فولانګ ذکر کړيدے، يهود زمونږ په علاقه د پخوا نه خوارۀ ؤ- (۶۳۰ق م) خواو شا هغوي باختر کښې اوسيدل - ډاکټر بريډل ګيته د "ويد" په زمانه کښې هم د سامي او آرين خلقو د ربط ذکر کړيدے، دا کلمې د هغه ربط آثار دي کومې کلمې چې هغوي د پښتو د سامي کيدو په کيدو کښې دليل راوړي هغه اوستا او ويد کښې هم شته حالانکې هغې ته څوک سامي نه وائي"- (۶)

استاد حبيبي په پښتو د عربۍ ژبې د اثر په بابله ليکي:

"په دوهمه هجري پيړۍ کښې د پښتو ژبه او شعر په ورکښي سوچه او خالص

ؤخو په دريمه پیړۍ کښې د عربي ژبې لغوي او ادبي اغيزې پرې شوي دي او د عربي فکر و ادب اثر په هغو ځايو کښې غالب شوې دې چې د عربو د حکومت اثر هلته ډير ؤ يعني په خراسان او د پښتونخوا پر غربي څنډو تر زابلستان او کابل پورې دا عربي اثر خپور شوے وۀ "- (۷)

د پښتو په نثر او نظم دواړو باندې عربي ژور اثر لري او په دې بابله د ابو محمد هاشم نامه اول سر کښې اخستے شي چې دا اثر ئې قبول کړے دے د دې نه پس چې د لوديانو دور مونږ په پام کښې ونيسو نو د لوديانو په دې سلطنتي او ادبي کورنۍ کښې شيخ رضي او نصر لودي دوه شاعران تير شوي دي د دوي اشعار هم ډير ادبي لوړتيا لري خو د دوې په شاعرۍ کښې د پښتو سوچه والے زيات او قوي دے او د عربۍ اثر پرې لږ ليدے شي باجود د دې چې د لوديانونظمونه د هاشم نه وروستو دي ځکه چې دغه وخت کښې د پښتونخوا په شرقي اړخو د عربۍ اثر کم او په غربي خو او د عربو د حکومت او فکر اثر زيات وې نو هم له دې کبله د ابوهاشم په اشعارو کښې د عربۍ لغاتو استعمال د لوديانو په مقابله زيات ليدے شي- د لوديانو په زمانه کښې د عربۍ ژبې اثر صرف تر ديني اصطلاحاتو محدود وو - د عربۍ اصطلاحات په ژبه او ادب خواره وو خو د ژوند نورې څانګې ئې د اثر لاندې نه وې راغلې-

شيخ اسعد سوري (وفات ۴۲۵ھ) چې د امير محمد سوري په مړينه کومه مرثيه ليکلې ده په هغې کښې هم خال خال د عربۍ کلمات په نظر راځي - ښاغلے ډاکټر اسماعيل ګوهر په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې د دريمې صدۍ هجرۍ نه شپږمې صدۍ هجرۍ پورې په پښتو ادب کښې د عربۍ ژبې ګډون ته په دې نظر ګوري ليکي چې:

''عربی کے الفاظ افغانستان اور خیبر پختونخوا میں اسلام کی اشاعت کے ایام اولین ہی سے پشتو کا حصہ بنتے رہے۔ ۱۳۹ھ میں امیر کروڑ کی نظم میں عربی کا کوئی لفظ نہیں ہے۔ تیسری صدی ہجری کے اختتام پر ابو محمد ہاشم کے عربی سے منظوم ترجمہ میں صرف تین لفظ درہم، قتال اور اسلحہ عربی کے ملتے ہیں باوجود اس کے کہ اس نے زندگی کا بیشتر عرصہ بغداد میں عرب شاعر ابن خلاد کے ساتھ گزارا اور ان کی عربی نظم کا منظوم ترجمہ کیا ہے۔ اس طرح پانچویں صدی ہجری کے اوائل میں ملتان کے پشتون حکمران نصر لودھی اور ان کے عم زاد شیخ رضی لودھی کے اشعار میں بھی صرف الحاد، ملحد، سنّتی (پابند سنت) اور مومن کے عربی کلمات ملتے ہیں لیکن عربی

الفاظ تیزی سے پشتو میں جگہ پاتے گئے۔ شیخ اسعد سوری کے 44اشعار کے مرثیے میں ظلم، مدار، وصل، انتقال، قبر، قید، قطار، غبار، شعار، قرار، عدل اور غفار کے عربی کلمات اور شیخ متی کے صوفیانہ کلام میں جمال، کمال، قدرت، مثال، تماشا، عشق، عدم، ابلیس اور آدم کے الفاظ، پانچویں اور چھٹی صدی ہجری کے دوران پشتو میں عربی کلام کے عام استعمال کی شہادت فراہم کرتے ہیں'' -(۸)

ترجمه: (د عربۍ ټکي په افغانستان او خيبر پښتونخوا کښې د اسلام د اشاعت په اولينو ورځو کښې د پښتو برخه جوړېدل - په ۱۳۹ هـ کښې د امير کروړ په نظم کښې د عربۍ يو لفظ نه وۀ - د درېمې هجري صدۍ په اختتام د ابو محمد هاشم عربۍ څخه په منظوم ترجمه کښې صرف درې ټکي درهم ، قتال او اسلحه د عربۍ ملاوېږي د دې باوجود چې هغه زياتره ژوند په بغداد کښې د عربۍ د شاعر ابن خلاد سره تېر کړے وۀ او د هغه د نظم ئې منظوم ترجمه کړې ده - دغسې د پينځمې هجري صدۍ په پېل کښې د ملتان پښتون حکمران نصر لودهي او د هغه عم زاد شېخ رضي لودهي په شعرونو کښې هم صرف الحاد، ملحد، سنتي (د سنت پابند) او مومن د عربۍ کلمات ملاوېږي ، خو عربۍ لفظونو په تندۍ سره په پښتو کښې ځاے موندلو - د شېخ اسعد سوري د څلور څلوېښت شعرونو په مرثيه کښې ظلم ، مدار، وصل ، انتقال ، قبر ، قيد ، قطار ، غبار ، شعار ، قرار ، عدل او غفار د عربۍ کلمات او د شېخ متي په صوفيانه کلام کښې جمال ، کمال ، قدرت ، مثال ، تماشا ، عشق ، ابليس او آدم لفظونه د پنځمې او شپږمې هجري صدۍ په مهال په پشتو کښې د عربۍ کلام د عام استعمال شهادت ورکوي)

زمونږ په واک کښې د پښتو د نثر اولنے کتاب تذکرة الاولياء چې سليمان ماکو د ۶۱۲هجري نه وروستو ليکلے دے، ده په خپل کتاب کښې د خپلې زمانې د مشهور اولياؤ ، روحاني، او ادبي کسانو، شيخ بيټني، شيخ اسماعيل، مالک يارغر شين او قطب الدين بختيار کاکي اشعار او احوال راغونډ کړي دي- د دۀ په ليک کښې د عربۍ رنګ ښکاره دے-

اکبر زميداوري چه د ۷۵۰هجري خواوشا ئې ژوند تيرولو د دۀ په اشعارو کښې هم خارجي اثر ليدے شي او د عربۍ ژبې ځني الفاظ ئې په خپلو شعرونو کښې

رانغاړلي دي او دې سره سره ئې د بهرنو ژبو د عروضي اشعارو اثر هم راګډ کړے دے لکه عبدالحئ حبيبي په پښتانه شعرا کښې ليکي:

"د دهٔ په شعر وشاعرۍ کښې مونږ ړومبي ځل د عربۍ او فارسۍ د عروضي اشعارو اثر وينو - خو سره د دې هم اکبر خپلي ملي سندرې ، خوږوالے، سلاست او سادګي نه پرېږدي او که د عربۍ او فارسۍ لاندې عروضي رنګ ته هڅه وکړي نو هم خپل ملي خصوصيات له لاسو نه ،نه غورځوي "- (۹)

دغه شان که مونږ د روښاني مکتب په لور نظر واچوؤ نو د دې مکتب سرخېل بايزيد په پښتو، فارسۍ او هندۍ ژبو کښې خپل ليک کړے دے لکه د خېرالبيان زيات په پښتو کښې ليک دے خو دې سره سره پکښې په ځينو ځايونو کښې د قرآن آيتونه، احاديث ، او عربۍ مقولې د دليل د پاره راوړلے شوي دي او د وضاحت د پاره ئې په فارسۍ ژبه کښې د دغه عربۍ عبارت ترجمه هم ليکلې ده -

د روښانيانو د دور په نثر د خارجي ژبو د اثر په حقله ښاغلے صديق الله رښتين په خپل کتاب " د پښتو نثر هنداره" کښې ليکي:

" په دې دوره کښې د مذهبي اواسلامي اغېز په وجه ډېر عربي او پر تيره مذهبي او تصوفي کلمې په پښتو نثر کښې رانغوتې دي لکه شريعت، طريقت، معرفت، کشف، الهام، خبر صادق، خبر متواتر، وحدت، کثرت او داسې نور- د جملو په جوړښت او ترکيب هم د عربۍ او فارسۍ اثر ننوتې دې مثلاً مضاف له مضاف اليه څخه د مخه راوړي لکه اسباب د علم، محبت د اهل شرع "- (۱۰)

حقيقت کښې د بايزيد د ليک اکثر موضوعات د فقهې، اخلاقو او دين سره تعلق لري نو له دې کبله ئې د عربۍ کلماتو له په خپل ليک کښې ځاے ورکړے دے-

اخون درويزه بابا او د هغه مکتب نورو ليکوالو په خپل ليک کښې د عربۍ زيات او ډېر درانهٔ توري څنګ په څنګ راوړي دي -

دروښاني مکتب سره تړلو شاعرانو ملا ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري، دولت لواڼي، واصل، علي محمد مخلص او کريم داد وغيره په کلام کښې هم د عربۍ اثر ښهٔ ښکاره په نظر راځي - دلته مونږ د مثال په توګه د مرزا خان انصاري او دولت لواڼي کلام

وړاندې کوؤ او په هغې کښې د عربۍ ژبې د لغاتو ګڼون لټوؤ۔

مرزا خان انصاري وائي:

د ازل قسمت ویستلے له میثاقه
مستحق له وردرومي استحقاقه
لور په لور د مینې دام ئې غوړولے
بې حسابه زړونه نیسي اشتیاقه
محبوبه له غافلانو بې نیازي که
پر مشتاقو تر مشتاقو د مشتاقه
شب پرک د نمر دیدن سهلے نه شي
تل په توره شپه حوس که له محاقه
د یوه کافر بچه په مرضا سوزي
د صنعان د طاعت ډیره طمطراقه
په وحدت کښې د دویم حاکمي نه وي
پیدائش د دواړو خلقو د خلاقه(۱۱)

که مونږ د مرزا خان انصاري په دې پورتنو شعرونو غور اوکړو نو په دې کښې ډیر داسې لفظونه شته چې عربۍ ژبې سره تعلق لري یا عربي الاصل دي لکه ازل ، میثاق، استحقاق، مستحق، اشتیاق، حساب، محبوبه، غافل، بې نیاز، مشتاق، محاقه، کافر، صنعان، طاعت، طمطراق، وحدت، حاکمي، خلاقه۔

د مرزا خان انصاري په شان دولت لوانړے هم د لوئې مرتبې شاعر دے۔ د هغه په کلام کښې هم بې شمیره د عربۍ لغات موندے شي لکه یو ځاے دولت وائي:

اے عجب په صورت څه شکل موزون ئې
آئینه د حق بې مثله بې چګون ئې

خدائې کريم ډير عنايت درباندې کړے
درست په لاس د قدرت روغ درون بيرون ئې
ستا په شان صورت بل نشته په جهان کښې
ته انسان خبر له زبرګ عالم لدون ئې
که بادشاه د جهان شې عدل دې نه وي
ميراثې د حرص ناک شيطان ملعون ئې
د دنيا په ډير پريوان نعمت مه غلويږه
که دوست پر ښائسته جمال مفتون ئې(۱۲)

که مونږ غور وکړو نو په پورتني کلام کښي هم ، صورت، شکل، مثل، موزون، حق، کريم، عنايت، قدرت، انسان، عالم، لدون، عدل، حرص، شيطان، ملعون، دنيا، نعمت، جمال، مفتون، کلمات د عربۍ ژبې دي-

دغه شان که مونږ د خوشحال په لور لاړ شو نو څنګه چې ډېر اوصاف ، موضوعات او رنګونه د خان بابا په شعري تخليقاتو کښې برېښي او ځلېږي نو د بې شانه صفتونو د جوګه هستۍ او ګڼ اړخيز شخصيت يو ځانګړے خصوصيت او شان دا هم دے چې د دهٔ د پښتو ژبي سره سره په عربۍ او فارسۍ ژبې هم لاس بر وهٔ او که په دې حقله د دهٔ کلام وځيرلے شي نو خوشحال بابا د دغه خارجي ژبو لغات هم په خپل کلام کښې راوړي دي - د مثال په توګه دلته مونږ د هغه کلام وړاندې کوؤ او بيا په هغې کښې د عربۍ لغاتو اثر ګورو- خوشحال بابا وائي:

زه مدد غواړم له تانه اے يوه خدايه احده
که مدد د راسره وي چار به شي ځما بده
زه عاجز مرئيے د ستا يم تا به ستايم ستا په فضل
ستا ثنا صفت به وايم ځو زه توان لرم بې حده
دا همه واړه ملکونه تازؤل له کاف و نونه

هم والد ئې د ملکونو هم منکر ئې له ولده

که سپید دے که سیاه دے په وحدت د ستا ګواه دے

ته محیط له هره څیزه له سفیدو له اسوده

د شامت زمونږه خپل دے چې مو کار هسې مشکل دے

ګنه ته څه هسې نه ئې چې خپل ورتږے له رده

هر چې نه دې ؤ په نغوته تا لبیک ؤې هغو ته

چې په یا صنم ویل کښې دا غلط دي یا صمده

ته پوښتنه کړے له حاله چې ئې حال ښه ؤ له قاله

د بلال اشهد قبول شه د دیو نورو له اشهده(۱۳)

د خوشحال په دې قصیده کښې په ګڼ شمیر د عربۍ لفظونه راغلي دي لکه، احد، فضل، ثنا، صفت، والد، منکر، ولد، وحدت، اسود، مشکل، لبیک، صمد، اشهد-

د خوشحال بابا دیوان کښې داسې الفاظ په کثرت شته چې تړون ئې عربۍ ژبې سره دے دغسې د خوشحال بابا د مکتب سره اړیکې لرونکو د نورو شاعرانو کلام هم د عربۍ ژبې د لغاتو ډک دے

که مونږ د رحمان بابا په لور راشو نو په دغه زمانه کښې پښتنو د عربۍ ژبې د اثر لاندې وه او هر لیکوال به دا غوښتل چې په خپل لیک کښې د عربۍ ژبې کلمې په زیاته پیمانه ورګډې کړي دغسې خپله پوهه او قابلیت هم په ګوته کړي او دې سره سره په اسلامي علومو خپل عبور لرل هم څرګند کړي-

رحمان بابا یو صوفي شاعر وۀ د هغه په کلام مذهبي رنګ خور دے او په دې خبره کښې هیڅ شک نه پیدا کیږ چې د رحمان بابا زیاتره شاعري د قرآن او احادیثو ترجماني کوي د دې نه څرګندیږي چې هغه د قرآن پاک ژوره مطالعه لرله او د فقهي کتابونه ئې هم لوستي وو - ټول پښتانۀ رحمان بابا د اسلامي تعلیماتو او نظریاتو د یو مبلغ په حیثیت پیژني - د دۀ دیوان د قرآن پاک نه پس یو مقدس مذهبي کتاب ګڼي او په مقدسو مذهبي کتابونو کښې ئې

حسابوي - د هغې وجه هم دا ده چې د رحمان بابا شاعري د اسلامي تعليماتو په اساس ولاړه ده او کلام ئې د قرآن او احاديثو په رڼا منور دے ولې چې هغه د ټول انسانيت ښيګړه لټوونکے دے او پيغام ئې عالمګير دے - عصمت سوراني ليکي چې:

"دا خبره حقيقت ده او د دې نه څوک هم انکار نه شي کولے چې رحمان بابا يواځې د پښتنو نه بلکې د تمام انسانيت شاعر وۀ - فلسفي ، شيخ القرآن، شيخ الحديث او دغه شان د فقهي هم ډېر ستر عالم وۀ- ځکه چې عبدالرحمان بابا په خپله د دې سپيناوے کړے دے لکه چې دې شعر کښې وائي:

دا چې زه وتاته وائم که ئې خدا ے که

په آيات و په حديث کښې به ښرګند وي

هم دا وجه ده چې نن هم د عوام الناس په نظرونو کښې کوم ځاے چې عبدالرحمان بابا نيولے دے د هغې مثال نشته "-(۱۴)

لکه څنګه چې ذکر اوشو چې د رحمان بابا کلام د قرآن او احاديثو په رڼا کښې دے نو ښرګنده ده چې د هغه په عربۍ ژبه ښه پوره عبور حاصل وۀ، که يو اړخ ته عربۍ ژبه يو ديني تقاضا وه نو بل لور د دې زده کړه او پوهه د هغه زمانې يو دستور هم ګڼلے کېدو او هغه دور سره تعلق لرونکو شاعرانو د کلام نه دا ظاهرېږي چې هغوي په عربۍ ژبه ښه پوهه لرله لکه پروفيسر داور خان داود وائي:

"عربي زمونږ ديني او مذهبي ژبه ده د دې ژبې زده کړه د خپل دين او مذهب (اسلام) نه د ځان آګاه کولو د پاره ضروري وه- د فارسۍ سره سره عربي هم په ديني او مذهبي مکتبونو او غونډو کښې ښودلے او اظهارولے شوه زمونږ اکثر شاعران لکه د فارسۍ د عربۍ هم عالمان او استاذان وو - عربي ژبه به ئې نه صرف خپله زده کوله بلکې بل ته به ئې هم ښودله"- (۱۵)

لکه د هغه وخت د نورو شاعرانو رحمان بابا هم په خپل کلام کښې د عربۍ ژبې توري ښه په خلاص مټ پکار راوستي دي او د عربۍ ژبې اثر د دوي په وينا او ژبه جوت ښکاري او داتقليد هغه خالص د هغه دور د مزاج او د وخت د تقاضو او د خپل علميت تر مخه کړے دے او بيا د نورو ژبو دغه ټکي ئې په داسې اثرناک او ښکلي انداز کښې په خپلو اشعارو

کښې راغونډ کړي دي چې خوارۀ ئې يو په دوه شوي دي - شېر شاه ترحوي هم د رحمان بابا په نورو ژبو د علميت قائل دے په دې بابله ليکي چې:

"که د رحمان بابا په کلام نظر واچولے شي نو مطالعه کوؤنکي ته به دا محسوسه شي چې دوي په خپل کلام کښې د عربۍ او فارسۍ الفاظ ډير په ښکلي انداز او ښائسته طريقه استعمال کړي دي نو د دې نه دا ثابتېږي چې رحمان بابا د عربۍ او فارسۍ علوم حاصل کړي وو"-(۱۶)

دغسې مير عبدالصمد خان هم د بابا په کلام کښې د نورو ژبو اثر د هغه د دور يو خاصيت گڼي ليکي چې:

*"وہ پشتو شاعری کے تیسرے دور سے تعلق رکھتے تھے جب پشتو ادب میں فارسی اور عربی الفاظ و تراکیب کا کثرت کے ساتھ استعمال ہو رہا تھا۔ چنانچہ ان کا کلام بھی عربی اور فارسی الفاظ سے مملو ہے۔ عشق و محبت اور فلسفیانہ خیالات کے اظہار کے لیے جن عربی اور فارسی الفاظ کی ضرورت ہو سکتی تھی وہ انہوں نے کمال فن کاری کے ساتھ استعمال کیے ہیں ان کا علم و فضل ان کی شاعری سے عیاں ہیں"* (۱۷)

ترجمه: ( هغه د پښتو شاعرۍ دريم دور سره تعلق درلود کله چې په پښتو ادب کښې د فارسۍ او د عربۍ لفظونه او ترکيبونه بېساره استعمالېدل -ددې وجې د هغۀ کلام کښې هم د عربۍ او فارسۍ لفظونه په نظر راځي، عشق و محبت او فلسفيانه خيالاتو اظهار دپاره چې د عربۍ او فارسۍ کومو لفظونو ضرورت وو نو هغه ئې په ډېرې فن کارۍ استعمال کړي ، د هغۀ علم او فضل د هغۀ شاعرۍ نه برېښي)

بابا جي په شاعرۍ کښې د عربۍ د لغاتو له کبله چې کوم اعجاز و تاثير راوستے دے او کوم خوند رنګ ئې دا لغات وړاندې کړي او کلام کښې ئې پئيلي دي دا صرف د دۀ د ذات لويه خاصه ده - د بابا دې فنکارۍ او استاذۍ ته هر لوستونکے ګوته په خولۀ پاتې کېږي - په دې بابله عبدالکريم بريالے ليکي:

"په ديوان کښې ئې داسې آفاقي عربي الفاظ دي چې سړے ورته حېران شي چې د الهام څخه په هېڅ ډول کم نه معلومېږي "- (۱۸)

د رحمان بابا ډېر داسې شعرونه په ديوان کښې موجود دي چې په هغې کښې د عربۍ

توري راوړلي شوي دي خو دلته مونږ د مثال په توګه څه شعرونه وړاندې کوؤ-

ګوره هسې کردګار دے رب څما
چې صاحب د کل اختیار دے رب څما

په دې شعر کښې د عربۍ توري : رب ، صاحب، کل

هم صانع دے د جمله و مصنوعاتو
هم سامع د هر ګفتار دے رب څما

صانع، مصنوعات، سامع

که ظاهر دي که باطن دي که مابین دي
له همهٔ خبردار دے رب څما (۱۹)

ظاهر، باطن، مابین

که صورت د محمد نه وے پېدا
پېدا کړې به خدا ے نه وه دا دنیا

صورت، محمد ، دنیا

نبوت په محمد باندې تمام شه
نشته پس له محمده انبیا

نبوت، تمام، انبیا

که نبي دے که ولي دے که عاصي دے
محمدؐ دے د همه واړو پیشوا (۲۰)

نبي ، ولي، عاصي

لکه راغلې بیا به هسې څنې درومې
دا جهان د رهروانو دے رباط

رباط

پہ عاشق به هېڅ دهشت د رقيب نه ؤ
که ئې نه کړي له خوبانو اختلاط (۲۱)

عاشق، رقيب، اختلاط

ډير ياران وو د ګل خان و جمال خان
پکار نه شه يو په وقت د زارستان

جمال، وقت

چې له آلَ له اولادَ سره وسول
خدا ے دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

آل، اولاد، مظلوم

الغياث د ے الغياث د ے الغياث
چې انسان کا هسې ظلم په انسان

الغياث، انسان، ظلم

عزيزان ئې اووژل پخپله
دا همه واړه تقدير د ے د سبحان

عزيز، تقدير، سبحان

هر چې اهل د دنيا دي حال ئې دا د ے
که سړي دي که پيري دي که حيوان

اهل، حال، حيوان

د دوي غوښي او ښو وينو رغړولي
بې حسابه هسې خلق شه طوفان (۲۲)

حساب، خلق، طوفان

مراد له تورو سپينو واړه دلبري ده
موقوف نه دے دغه کار په تور و سپين

موقوف

چې رنګين رنګين مضمون پرې کښلے نه وي
څه پکار دے د بياض ورق رنګين

مضمون، بياض، ورق

غرض خوب دے که په حسن وي که په خاوره
څه حاجت دے په بسترو په بالين (۲۳)

غرض، حسن، حاجت

چې دنيا ئې کړه د خدا ے د پاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د درويشانو (۲۴)

ترک، رحمت

هغه يار به وکومه خواته غواړم
چې ئې هېڅرته منزل و مکان نشته (۲۵)

منزل، مکان

زوړند سر لکه غنچه مراقبه کړي
پټ دې نقش د زړۂ رخت وي رنګينه

مراقبه، نقش

بد کردار که صد ساله وي و رحمان ته
څرګندېږي لکه طفل شبينه (۲۶)

رحمان، طفل

ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه
دا اسباب په عاشقۍ کښې اسباب نه دے

نظر، عقل، اسباب

هر چې يار منع کوي له خپله ياره
دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دے (۲۷)

کتاب

حرام خور د مخنثو په حساب وي
که په توره ياپه تېغ وي مړني

حرام، مخنث، حساب

اے رحمانه چې بد فهم و بد کردار شي
راته وائي سپي بهتر دي که سړي (۲۸)

فهم

حېران تللي وي په فکر
فراموش ئې قيل وقال شي (۲۹)

قيل، قال- فکر

په ثواب ئې غلط مه شه
په يوه ساعت وبال شي

ثواب، ساعت-غلط

چې مشهور په صداقت وي
پوچ ګوئي واخلي بطال شي

مشهور، صداقت، بطال

محتسب وي احتساب کا

کوتوالي واخلي کوتوال شي (۳۰)

محتسب، احتساب

د اوبو په غلا چې ورشي نه جاروزي

که ساکن د خانقا او د محراب وي

ساکن، محراب

د اوبو ثواب ئې نه کېږي له لاسه

که په ګوټ اوبو ئې عین د حج ثواب وي

ثواب، عین، حج

چې ئې زیست پائې روزګار په تحمل شي

هېشه ئې له بدیٔ اجتناب وي

تحمل، اجتناب

ملایم ویل اثر وربانديي نه کړي

چې په زړه کښې ئې نه شرم نه حجاب وي (۳۱)

حجاب

که وعده د یوې چارې یو ساعت کړي

د هغې چارې امید مې په کال نشته

وعده، ساعت

د آفتاب په مخ کښې هره ورځ زوال دے

ستا د حسن په آفتاب کښې زوال نشته (۳۲)

آفتاب، زوال، حسن

عاقبت، به دې اجل په مقراض غوڅ شي
پیوسته به مدام نه ی تار د عمر (۳۳)

اجل، مقراض، عمر

زه رحمان، چې ستا د حسن ثنا خوان یم
ستا له روي درست جهان ځما ثنا کړه (۳۴)

حسن، ثنا

کله لاس په سروبل ته کېږدي تواضع کړي
کله وبله کېږدي لاس په توره په چاړه (۳۵)

تواضع

خدا ے رازق ګڼي او رزق ګڼي له کسبه
په دا شناخت و ځان ته وائي حق شناس

رازق، حق

هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوې
نه پوهېږم چې ناس ئې که خناس

مذبذب، ناس، خناس

خبر دې دا دے چې له شرَ و جار وځې
په دا چاره کنبي هېڅ نشته کوز وپاس (۳۶)

شر

چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه
له نظره چې هر سنګ در ومرجان شه

در، مرجان- عيان

خراب زړه چې مې ژړل د يار له غمه
بيا په اجر د هغي ژړا خندان شه

اجر

چې د يار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو
خپل حلوه مې خراسان و هندوستان شه

حلوه

علامت د استغنا به ئي ځرګند وي
هغه څوک چې تېر تر ځان و تر جهان شه (۳۷)

استغنا- جهان

راشئ ګورئ منصفانو، د دلبرو دا سلوک
لکه ګل په لاس د طفل
ځما زړه کړه شوک په سوک، (۳۸)

طفل، سلوک

واړه جور د دې دهر مې قبول دي
که خدا ے ماله خپله ياره جدا نه کا (۳۹)

دهر

خان سلطان د دې جهان
آخر درومي خوار حېران
چې روح له تنَه بيل شي
نور پرې ژاړي فرزندان

بیا ئې غسل لره واخلي
په تخته باندې عریان
په جامو ئې خوشحالېږي
مرده شو او غاسلان
چې له قبره ئې بازګشت شي
مال ئې یوسي وارثان (۴۰)

سلطان، جهان، حېران، روح، غسل، غاسلان، قبر، مال، وارثان

دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دي
هم په دا مقدار ئې اجر موي بموې شي (۴۱)

عمل، مقدار، اجر

هېشه د بېلتانهٔ له غمه لولم
زه رحمان نعوذ بالله منها (۴۲)

نعوذ بالله منها

د دې پورتنو مثالونو نه دا خبره څرګندېږي چې د رحمان بابا په شاعرۍ د عربۍ ژبې لوے اثر دے او دهغهٔ په کلام کښې ګڼ شمېر د عربۍ ټکي په نظر راځي خو د مقالې د طوالت د وېرې له خاطره په لږو مثالونو اکتفاء کوؤ۔

## Refrences


1: Wahab Ashrafee, professor,Tarikh Adbiyat Alam,Jild dom,sum,Islambad,porb academy,Tabgha awal june 2006 ,page 290
2: Mohammmad kazim,Arabee adab ki Tareekh ,duri jaheeliyut sy mujuda dur tuk , Lahore ,sangi meel publications,2004 ,page 16
3: Dawer Khan dawood ,professor ,D Rehman Baba jawand talimat aw shairee, pekhawer , jadoon printing press , September 1997,page 114
4:Mohammad Atta ulllah Khan , Doctor, Urdu aor farsee k lisanee rawabit,Karachi,Anjumani Taraqee urdu,2009,page 96-97
5: khalid Khan khatak ,doctor,Urdu aor pashto lisani wa adabee ishtirak ,maqala mashmola Pakistani zabany,Mushtarik lisanee wa adabee wrsa ,muratabeen ,dr inam ul Haq javaid,Abdullah jan Abid ,Islambad, Alama iqbal open university,2009 , page 78
6: Afzal Raza ,prof,d pakhto d Naser tareekh , pekhawer , university book agency, drayum zal , November 2010 , page 35-36
7: Abdul Haiy Habibee , d pakhto adbiyato tareekh , lomry aw dawayum tuk , pekhwar, danish khperandweya tolana, 2005 page 456
8: Ismail Goher ,Dr, pashto Punjabi aor Urdu k lisanee rawabit , ( ghir matbogha PhD maqala ) shuba Pakistani zabany , Islambad,Allama iqbal open university,2014,page 51
9:,Abdul Haiy habibee , pukhtanah shuaraa (awala hisa),university book agency,kal na laree, page 14
10: Sadeeq Ullah rekhteen ,d pakhto d naser hindara,pekhawer,university book agency,Kal na laree, page 59
11:,Mirza Khan Ansaree , d mirza khan ansaree dewan , samawona aw serana dr pervaiz Mahjor khwashkee , pakhto academy pekhawer university , November 2004,page 112,113
12:,Dolat lawany , d dolat lawany dewan, , murtaba Abdul shakoor shah, pakhto academy Kabul, page 2018
13: khushal khan khatak, Armaghani khoshal , muqadima syed rasol rasa , pekhwer , university book agency,daryum zal , 2009 , page 2-3
14: Asmat suranee, Rehman baba aw hadees mubarika,maqala mashmola Rehman pohana , salorum took , pekhawe , Rehman adabee jerga, 2012 , page 249
15: Dawer Khan dawood , Prof, d Rehman baba jawand talimat aw shairee , page 112

16: Sher shah tarkhawee , d Rehman baba Shawor maqala mashmola Rehman baba pohana drayum jild , pekhawer, Rehman baba adabee jirga , February 2005 , page 73
17: Mir Abdul samad Khan , Rehman baba shair insaneyut, Peshawar, maktaba shaeen, Tabgha doom , November 1974, page 113
18: Abdul Kareem baryaly, Rehman baba d ijtimee shawor sakhtun , maqal mashmola Rehman baba pohana drayum jild , page 35
19: Rehman baba , dewani Rehman baba , muqadima syed Rasol Rasa , pekhawer , university book agency, March 2009 , page 2,
20: hum dagha page 3
21:hum dagha page 59
22:Hum dagha page 82
23:Hum dagha page83
24: Hum dagha page84
25: Hum dagha page 86
26: Hum dagha page 87
27: hum dagha page 90
28: Hum dagha page 98
29:,Hum dagha page 104
30: Hum dagha page 106
31:,Hum dagha page 109
32:,Hum dagha page 128
33:,Hum dagha page 142
34: Hum dagha page 148
35:,Hum dagha page 152
36:,Hum dagha page 154
37:Hum dagha page 156
38:,Hum dagha page 170
39:Hum dagha page 171
40: Hum dagha page 199
41:,Hum dagha page 232
42:Hum dagha page 18